

ستر ملي مبارز بايزيد روښان

Ketabton.com

د چاپ چارې : علي محمد منګل
د باختر مطبعې چاپ

د بايزيد روښان د زوکړې
د پينځه سوم کال دسيمينار په وياړ

د افغانستان د علومو اکاډمي

# فرحت المجتبی

د
بايزيد روښان

سريزه اوسمون
د
سرمحقق زلمی هيوادمل

۱۳۸۵ هـ ش

دبایزید روښان دزوکړې
دپینځه سوم کال دسیمینارپه ویاړ

دافغانستان د علومو اکاډمي
دژبواوادبیاتومرکز
کابل مجله

# فرحت المجتبی

د
بایزید روښان

سریزه اوسمون
د
سرمحقق زلمی هیوادمل


کابل افغانستان

۱۳۸۵ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پیژندنه :

دکتاب نوم : فرحت المجتبی
ناظم : بایزید روښان
مهتمم : عبدالظاهر شکیب
خپرونکی : کابل مجله ، دژبو او ادبیاتو مرکز
د چاپ شمیر : ۵۰۰ ټوکه
د چاپ کال : ۱۳۸۵ هـ ش
کمپوزر : نورګل منګل



ستر ملی مبارز بایزید روښان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست


| موضوع | مخ |
| --- | --- |
| د با یزید روښان فرحت المجتبي | ۱ |
| سریزه | ۵ |
| ماخذونه | ۲۱ |
| متن | ۲۳ |


## د بایزید روښان فرحت المجتبی

د افغانانو د یو ستر ملي او عرفاني نهضت مشر بایزید روښان د خپلي روښاني لارې د تبلیغ او د خپلو پیروانو د پوهاوي لپاره په پښتو ، دري ، عربي اوهندي ژبو ډیر منظوم او مسجع آثار لیکلي دي ،دتېرې شلمې پیړۍ دویمي نیماي کي دده د آثار و چاپ ته توجه شوي ، په کابل ، پیښور او اسلام آباد کي يي موجود اوموندلی شوي آثار چاپ شوي دي ، ځیني آثار يي مکرر هم چاپ شوي دي .

د بایزید د آثارو یا دوني په ښینو لرغونو آثارو کې ، لکه دبستان مذاهب ، حالنامه او د ښینو ختیځ پوهانو په آثاروکې شوي دي خو د شلمي پیړی د دویمي نیمايي پوری یې څوک له وجوده نه وو خبر . د بایزید د خیرالبیان دوی نسخي هماغه مهال وموندل شوی یوه دبرلین نسخه چې توله په څلورو ژبو ده اوبله د حیدر آباد دد کن نسخه چې بشپړه ده اود خیرالبیان تول مطالب پکي په څلورو ژبو راغلي چې تر اوسه نه ده چاپ شوی.

تذکره دعلم یا ( د علم رساله) اوفرحت المجتبی دواړه د شلمي پیړی په وروستیو لسیزوکي پیدا او چاپ شوي.

فرحت المجتبی د بایزید یوه کوچنو تې رساله ده چې د هندوستان د پایتخت دهلي په ملي میوزیم د تذکره د علم د نسخي د پای په، ۵۳ ـ ۵۵ پانوکي لیکل شوی ده. خط يي نستعلیق دی اولیکدود يي روښاني ،خطاط يي دروښانیانو د لاري پیروګل محمد روښاني .

دا رساله ما اول ځل په ۱۹۸۳ م کال کي ولیدله ، دوي رباعی‌مي ښیني نقل کړي اود هندد کتابخانو پښتو خطي نسخو کي مي واخیستي . خو دوست شینواری دی الله تعالی و ښښي د هغه ښینو اشارو زه دي ته متوجه کړم چې دارساله هم لکه دعلم رساله د بایزید روښان ده، نومي څکه په ۱۹۹۱ کال کي دارساله توله نقل کړه او راسره وه . د پیښور د مهاجرت شپې وي ، ښاغلیو رفیع صاحب او سید صابر شاه صابر په ګډه ( تلوسه ) نومي مجله چاپو له ، له مايي دیوی اوږدی



مقالي غوښتنه وکړه، د فرحت المحتبی نقل ماله کابله له خان سره وړی وما دا نقل چې پرله راواړوه ، څوځله چې مي ولوست . د خطي نسخي پاڼي دوړنو د خوړنک له امله روغي نه وي پاتې نو څکه ښیني کلمات پکي مغشوش شوي وو ، مادغه رساله له خپلې وسي سره سم له سره ولیکله او چاپ ته مي آماده کړه ، یوه مقدمه ګوتې مې هم پرې ولیکله .

په مقدمه کې ښیني خبرې د اروابناد قلندر مومند د خیرالبیان تنقیدي مطالعه نومي اثر دمقدمي د هغه خبرو رد ته وقف شوي وې چې يې د بایزید روښان د تذکرۀ علم په باب کښلي وې . زه نه پوهیږم چې اروابناد مومند به هغه وخت لوستي وې او که نه څکه زه د ده او دده د پیروانو په عکس العمل پوه نه شوم . اوس قلندر مومند صاحب مړدی ، خود لوستونکیود ذهن دروښانو لو او روښانه ساتلو په منظور د فرحت المجتبی په مقدمه کي د استاد مومند د خبروپه جواب کي لیکل شوي خبرې پرېږدم.

ما د فرحت المجتبی د تلوسي د چاپ په مقدمه کې دا ژمنه کړي وه ، چې کله زه دا رساله په خانګړي ډول چاپوم ، نو که د الله تعالی مرحمت مي ملګری و، نو ضرور به یو ځل بیا د دهلي دمیوزیم له خطي نسخي سره ګورم .

د مهربان ښښتن په فضل هند ته د ۲۰۰۵ م کال په سفر کې دا موقع برابره شوه چې ددهلي ملي موزیم ته ورشم او ددې رسالي د ( تلوسه ) مجلي چاپ ورسره

مقابله کړم . دا ځل بیا اړشوم چې رساله په دقت بیا نقل کړم. ځکه هندوستان ته دتګ په وخت کي مي تلوسه پیدانه کړی شوه . خو داځل مي خپل نقل له خطي متن سره بیرته بیا مقابله کړه څه چې رانه پاتي وو ، ځیني کلمي رانه پاتي اویا سمي نه وي ضبط کړی په بیا کتنه کي مي هغه برخي هم سمي کړی.

روان کال د دلوپه میاشت کي د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا د بایزید روښان د زوکړی د پنځه سوم کال د منطقه یي سیمینار په ویارمي ددې رسالي د ځانګړي چاپ اړتیا حس کړه ، خو چې مي ولیدل داکاډمي جیب تش دی ، نومي بیاغوره وبلله چې دارساله، بیا د کابل مجله کي چاپ شي او پنځه سوه نسخي اضافي ورسره چاپ او د ځانګړي رسالي په توګه د سیمینار په مناسبت راووزي اود سیمینار ګډون کوونکیو ته وړاندي شي.

په همدي نیامت مي دا رساله بیا له سره وکتله په مقدمه کي یو ځای سموني وشوي خو په متن کی زما د ۲۰۰۵ کال د اخیستی متن له مخی کافی سموني او زیاتوني راغلی ، امید دی چې تر لوړی چاپ دا چاپ بشپړ وي .

په پای کي د افغانستان د علومو اکاډمي له مشر استاد راشد د ژبو او ادبیاتو مرکز له مشر ښاغلي عبدالواجد واجد او د کابل مجلي له مسوؤل مدیر سرمحقق علي محمد منګل نه مننه کوم چې د دې رسالي چاپول یي ومنل .



# سریزه

ددهلي دملي میوزیم په خطي نسخو کي په ۸۱/٤٤١ نومره یوه نسخه موجوده ده. په دې نسخه کي د بایزید روښان دوې رسالي خطاطي شوې دي . خطاط یي ګل محمد روښاني دی، دی درشید آباد اوسېدونکی و او داکتاب یي د فرخ سیر د پاچهی په دریم کال لیکلی دی ، چې غالباً به داسنه ۱۱۲۷ هـ ق وي (۱).

ناظم بایزید خپل دغه دوه اثره په عام دول رسالي معرفي کړي دي ، خو دواړو ته یې ځانګړي نومونه هم ورکړي دي ، هغه رسالي دا دي:

۱ـ تذکره : بایزید روښان ددې رسالي نوم داسي معرفي کړی دی :

داتذکره دعلم
رساله نمینه (۲)

ددهلي په نسخه کي بیادلوړ بیت لوموړی مسری داسي ده : (داتذکره دعلم و عمل) اما په روښانیانو کي دارساله په تذکره مشهوره وه ، لکه چې ددې رسالي ددهلي میوزیم د نسخي د لوموړی پاني په الف مخ کي غالباً دخطاط په خط کښل شوي دي :

الجزء تذکره میا روښان .

په ځینو نورو آثارو کي هم دارساله د تذکري په نامه یاده شوی ده ، چې وروسته به خبري پري وشي.

ددې رسالي درې خطي نسخي تراوسه لیدل شوې دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نسخه یې د پښتو ټولنې وه ، چې په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې دې مؤسسې د مرحوم دوست محمد بریخ له ورثه وو رانیولې وه . دانسخه د پیل له خوا بشپړه خود پای له خواناقصه ده .

بله نسخه راقم الحروف په ۱۳۵٦ هـ ش کې پیدا کړې وه چې دا نسخه د پیل له خوا لږې لوېدنې لرې او دپای له خوا بشپړه ده . اوس نه پوهېږم چې دانسخه به هم زما په تالا شویو کتابونو کې شامله وي او که به پاتې وي؟

دریمه نسخه یې ددهلي د ملي میوزیم ده . چې وینو خورلې خودپیل او پای دواړو له خوا بشپړه ده . دا رساله تراوسه دوه ځله چاپ شوې هم ده .

لومړی چاپ یې د ۱۳۵۵ هـ ش کال دی، داچاپ د پښتو ټولنې دی ، چې متن یې ددې مؤسسې د ناقص الاخر نسخې په بنا تهیه شوی دی . ځنګه چې دا نسخه ناقصه وه ، نو ځکه یې نه نوم څرګندو اونه ناظم .

درسالې مدون اروانښاد سرمحقق دوست شینواري (۱۳۷۲هـ ش مړ) رساله د( روښاني رساله) په نامه چاپ کړه اوپروقایه یې د ناظم نوم څرګند نه کړ، خو په مقدمه کې یې د خپلو څېړنو او له خیرالبیـــــــان سره د مقایسې له مخې دا کښلي وو،چې دارســـــاله د بایزید روښان ده.

ددوهم چاپ متن یې د دریونسخوله مخې تهیه شو اومرحوم دوست شینواري په دې چاپ کې دا رساله (دعلم رساله ) وبلله او پروقایه یې دناظم نوم صریح



بایزید روښان ولیکه، داځکه چې زما د کتابخانې او ددهلي دملي میوزیم په خطي نسخو کې د ناظم نوم ښکاره راغلی دی او ناظم ویلي دي:

دا تصنیف د میا روښاني دی – سړی دی یې ونغوړینه.

دالوړ ضبط زما د کتابخانې د خطي نسخې دی اوددهلي په خطي نسخې کې د ابیت داسې راغلی دی:

داتصنیف د پیر روښان دی

دخدای د پاره دې سازکاچې غلطي پکې مومینه (۳)

په دواړو ضبطونو کې دا خبره څرګنده ده ، چې دا رساله د بایزید روښان تصنیف دی او ظاهراً هیڅ ډول شک پرې څوک نشي کولای .

دا چې اروښاد دوست شینواري په دوهم چاپ کې دا رساله " دعلم رساله" په نامه چاپ کړې ده ، دنامه په دې انتخاب کې به د ده پاملرنه درسالې هغه بیت ته وه، چې د رسالې په خاتمه کې راغلی دی او ما د مخه راوړو، اروانښاد دوست په دې انتخاب کې په بیت کې راغلي د " تذکره " کلمې ته التفات نه دی کړی او علم یې دبیت له لومړي مسرې څخه او رساله یې له دوهمې څخه اخیستې او " د علم رساله" نوم یې پر خپل تهیه کړي متن ایښی دی ، حال دا چې دا رساله په تذکره مشهوره وه او بایزید هم تذکره بللې ده . ددې رسالې موضوعات خیر البیان ته ورته دي . په دې رساله کې هم د مسلمانۍ د پنځو بناوو شرح راغلې او د اوداسه ، لمانځه ، تیبانه ،روژې ، زکات او حج خبرې یې په کې

کړي دي او د سلوک مقامونه يې ښوولي دي . ددې خبرو ملاتړ د بايزيد په دې بيتونو کې هم موندل کيږي :

مـا هغه دي پکښي کوښلي
چې واړه د مقصود مسالي دينه
سړیٔ د خپل مقصود لپاره
دا مسـالي واړه زده کوينه
داسلام پنځه بنايي زده شي
باور کانئ چې ډيره يې لولينه (٤)

اروانښاد دوست شينواري د اعقيده لرله ، چې بايزيد دا رساله تر خير البيان د مخه نظم کړي ده .(٥)

## ٢-فرحت المجتبی :

ځنکه چې دمخه يې يادونه وشوه د دهلي د ملي ميوزيم په ياده شوې مخطوطه کې په لومړنی رسالې پسې جوخته د بايزيد يوه کوچنوټې بله منظومه رساله هم موجوده ده (٦)، چې نظمونه يې ، لکه د بايزيد نور نظمونه د خوند نه دي او ماتي ګوډې لري.

دا رساله داسې پيل شوې ده :

مياروښان ويلي دي په عنايت د الهي
زه به دربيان کړم يو څو رباعي
هر چې پې کړده که شناخت يې پيداشي
کړده دې په اخلاص کا که څوک يې پتيي
څوعالم تير شوی دی لا به پسې ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دی نه کا ناميدي

په لوړ اقتباس کې دريیم بيت په ټوله رساله کې د بايزيد په اصطلاح ترهرې رباعي وروسته تکرار راغلی



دی . اودا هغه خصوصيت دی چې د بايزيد روښان په نوروپښتو آثارو کې هم ليدل کيږي ، لکه : په خيرالبيان کې ديو بحث په ترڅ کې د بحث دبيلابيلو مسايلو د راوړو په ترڅ کې د هر مطلب تر بيان وروسته دغه لاندې بيت تکرار شوی دی :

مرګ به ورشي وسړي وته ناګهان
نشته د سړي په دنيا کښې تل دتله مقام

دابحث چې تر همدې لوړ بيت لاندې پيل شوی دی په دنيايي چارو پورې اړه لري او بايزيد داسې شروع کړی دی:

"ګوره ددغه زماني آدميان غواړي دنيا او هر چې پکښې دي پرې مشغول دي ډير آدميان ځينې په کرل يا په بزرګاني يا په پونده ګلې يا په ترکش بندي، ځينې په نورو چارو مشغولي کا آدميان ..."

د خير البيان په همدې بحث کې يې د لنډو لنډو مطالبو تر بيان وروسته دغه لوړ بيت راوړی دی،چې په دې بحث کې ٢٦ خله دا بيت تکرار شوی دی (٧). همدا ډول په " تذکره" کې هم د بېلابېلو موضوعاتو تر بيان وروسته دا لاندې بيت په کابو ټول کتاب کې تکرار راځي :

مسکين ويلي دينه دا سړی دې يې نغوړينه

دا لوړ بيت په تذکره کې ٢٠ خله راوړل شوی دی. (٨) په فرحت المجتبی کې ټول١٧رباعي دوله نظمونه راغلي(٩) چې تر هر دغسې نظم لاندې هماغه يو بيت :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیندي
بیا بیا تکرار شوی دی ،که د تکرار بیتونه ورسره حساب کړو ، نو د رسالي ټول بیتونه ۵۱ کیږي .
دا رساله په دې ډول پای ته رسېدلې ده:
چې روح بیا مومي د خدایه قراري
خدایي رحمت په واړه دی له خپسر ګني
میا روښان ویلي دي دا رساله مي فرحت المجتبی
هرچي د کړده د پاره زده کا د ښو اثر بي وزړه ته وریشي
څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیندي
د دې رسالي بله نسخه تر اوسه چېرې بل ځای نه ده لیدل شوې اویا دا چي ما ته نه ده معلومه . په دې نسخه کې د رسالي متن ظاهراً بشپړ دی خو ځیني بیتونه او یا د بیتونو او مسریو ځیني کلمات د وینو د خوړنګ له آمله له لوستو وتي ، ځکه په ظاهر متن کې ځیني بیتونه او مسری ناقصي دي .
دا رساله دروښاني لارې یو کوچنی او لنډ لارښود غوندې دی ، چې د لارې عمده ټکي پکي امام الطریقه په دې نیامت راوړي او رانغښتي دي ، چې د دې لارې طالب ډېر ژر او په لږو الفاظو او جملو کې ددې طریقې له ځینو اصولو او ضوابط سره آشنا شي .
په دې رساله کې راغلي مطالب زیاتره خیر البیان ، تذکره او نورو اثارو کې هم راغلي دي ، همدا رنګه د کلماتو او لغاتو اشتراک هم په دې دریو واړو اثارو کې



ښکاره لیدل کیږي او متني قراین په دې ګواهي لي چي دغه دریواړه اثره (خیرالبیان ، تذکره او فرحت المجتبی) دې دیو سړي وي .
دا وې د بایزید هغه دوې رسالي چي ددهلي دملي میوزیم په خطي مجموعه کې محفوظې دي او ما په د مخنیو بحثونو کې لړې لړې معرفي کړې.

## زما تېر وتنې

کله چي ما د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي نومې کتاب له پاره د هند د ځیني کتابخانو له پښتو خطي نسخو خپل اخیستي یادښتونه سره ترتیبول نومې یوه اشتباه دا کړې وه چې هلته مې فرحت المجتبی او (تذکره میا روښان ) د یو ه کتاب دوه نومه بللي وو او د فرحت المجتبی نوم مي هم د بایزید تذکرې ته راجع بللی و او بله اشتبا مي داکړې وه ، چي د فرحت المجتبی نظمونه مي د نسخي د کاتب ګل محمد روښاني بللي وو (۱۰)
زه خپلې اشتبا ته هغه وخت متوجه کړل شوم چي کله ما له دهلي څخه د بایزید د تذکرې راوړی نقل اروابناد دوست ته ورکړ. څو دوی زما د نسخي او د پښتو ټولنې د نسخي او دغه نقل له مخې ددې رسالي یو تحقیقي متن تیار کړي. که څه هم ما هغه وخت له تذکرې سره د فرحت المجتبی رساله ګرده نه وه نقل کړې ، بلکه د پیل او پای څو رباعي مي یې نقل کړې وې ښاغلي دوست چي دغه څو رباعۍ کتلي وې نو یې دا عقیده

ښکاره کړه چې .د  دهلي په نسخه کې چې تر تذکرې وروسته خيني رباعی راغلي دي دا هم د بايزيد دي (۱۱) ما چې د ارواښاد دوست دا يادونه ولوستله او له رسالې (فرحت المجتبى ) خپل اخيستي ناقص يادښتونه مې بيا په غور له سره وکتل نو د دغو ناقصو يادښتونو له بيا کتنې او هم د تذکرې په خاتمه کې د رسالې د نامه موجوديت په دې معتقد کړم ، چې دا دواړه بېلې رسالې دي او خانته خپل نومونه لري او ورسره مې په ذهن کې د حالنامې  دا خبرې هم راوګرځېدې : " پير دستګير قدس سره به زبان افغاني قصيده ها و غزل ها و رباعيها و قطعه ها و مثنوي ها ساختند " (۱۲)

ترجمه : " پير دستګير ( بايزيد)په پښتو ژبه قصيدې ، غزلې ، رباعي ، قطعې او مثنويګانې جوړې کړې"

وروسته تر دې مې د خپلې دغې تېروتنې ازاله په دې ډول وکړه :

۱- د علم رسالې (تذکره) تحقيقي متن په۱۳٦٤ هـ ش کال د اشرف خان هجري د سيمينار په مناسبت چاپېده او زه ددې سيمينار علمي منشي وم ، ما بايد د سيمينار د علمي کميټې په نماينده ګۍ پر دې کتاب څه کښلي وای ما چې پر دې رساله کوم يادښت کښلی دی هلته مې د خپلې اشتبا يادونه وکړه (۱۳)

۲-په ۱۳٦٥ هـ ش کال کې مې " فرحت المجتبى او تذکره ميا روښان  يو کتاب نه دي " تر عنوان لاندې يوه څانګړې مقاله وليکله په دې مقاله کې ما نه يوازې د دې دواړو رسالو د نومونو سره ګډولو اشتبا ياده کړه



، بلکه " د هند کتابخانو پښتو نسخې " نومې کتاب کې چې خينې نور اشتباهات له ما شوي وو ، هغه مې هم ياد کړل (۱٤).

۳-په همدغو وختونو کې مو د فرهنګ ادبيات پښتو دوهم ټوک تياراوه، نو هلته مې هم دغه دوې رسالې سره بيلې معرفي کړې (۱۵).

اوس چې زه د فرحت المجتبى متن وړاندې کوم نو مې لازمه وبلله چې د خپلو هغو تېروتنو يادونه يو ځل بيا وکړم چې لنديز يې تاسې لوړ ولوست.

× × ×

زما په عقيده د بايزيد ددغو دوو رسالو په باب په دې رساله ګۍ کې لازمې خبرې وشوې ، خو يوه بله موضوع چې له دې رسالو سره هم اړه لري بايده دي چې دلې ياده شي او هغه دا چې : د نوميالي ليکوال او شاعر ښاغلي قلندر مومند کتاب " د خير البيان تنقيدي مطالعه " زما د کتاب " د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې " تر چاپ څلور کاله وروسته په ۱۹۸۸ ع کال کې چاپ شوی دی. د ښاغلي مومند ددغه کتاب په مقدمه کې زما د ياد شوي کتاب او هم د دغو رسالو په باب خينې يادونې شوې دي ، غواړم په دې ارتباط هم خينې توضيحات ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم .

د ښاغلي قلندر مومند " د خير البيان تنقيدي مطالعه " نومې کتاب ۱۹۷ مخيزه مقدمه ډېرې د کار خبرې هم لري او خينې داسې نکتې يې څېرلې دي چې يا خو د نورو پام ورته نه دی شوی او يا دا چې خينو يوازې

اشاري ورته کړي دي او دوی بیا پر هغو ښه بحثونه کړي دي . ددغو ښو او جالبو بحثونو تر څنګه په دي مقدمه کي خیني داسي بحثونه هم زمونږ د خینو فرهنګي شخصیتونوپه ادرس خیني داسی خبری هم شته چي باید نوری هم په سره سینه وخیړل شي او د کره کتني د جهان شموله ادابو او نورمونو په رڼا کی بحث باندی وشي . د هغو بحثونو موقع دا نه ده، خکه دا رساله ددغسي اوږدو بحثونو حوصله نه لري،اما د هند د کتابخانو خطي نسخي نومي کتاب متعلق چي په دي مقدمه کي څه راغلي دي ، په هغه ارتباط خپل معروضات په لاندي ډول وړاندي کوم :

۱-ښاغلي قلندر مومند چي په دي مقدمه کي د بایزید روښان د زوکړي او مرګ د کالونو د پیداکولو کوم کوشش کړی دی ، دا په خپل ځای کي غنیمت کار دی ، خو ورسره دا باید ووایو چي له ننه ډیر کالونه د مخه (۱٦) استاد پوهاند رښتین د حالنامي تر لوست وروسته د بایزید د زوکړي پر مروج تاریخ ۹۳۱ د شک اظهار کړي و اوما هم چي دهند د کتابخانو خطي نسخي په تعلیق کي پر حالنامه یاد ښت خپور کړی دی (۲۸۷مخ ) هلته مي د استاد رښتین دغه شک ته اشاره کړی ده، دغه رنګه د بایزید د مرګ د کال په باب د فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد غنیمت مقاله د ۱۳۵۵ هـ ش کال په اواخرو کي خپره شوه (۱۷) خو د خیر البیان تنقیدي مطالعه مقدمه کي د ښاغلي قلندر د بحث دا برخه په دي ساحه کي د نویو انکشافاتو دبررسی سره



مله ده . د دي ساحي له انکشافاتو څخه یو انکشاف د خیر البیان د دوهمي پیدا شوي نسخي اختتامیه لیکنه ده ، چي له هغي څخه یو تاریخ په لاس راځي ۹۸۳ هـ ق . څنګه چي د بایزید د مرګ په ګنو ورکړ شویو تاریخونو کي یو تاریخ دا هم راغلی و ، او بله خبره دا وه چي هلته د آغاز له کلمي سره بله جوخته کلمه هم نه وه نو ما په احتمالي ډول ولیکل: " له آغاز میاروښان څخه مطلب ښایي د بایزید د مړیني شپږنویيم کال وي ..." دافغانستان په ادبي څیړنو کي چي په دغه لهجه څوک څه ولیکي ، نو له هغي څخه خو دا مرادیږي چي لیکونکی پر مساله سل په سلو کي مطمئن نه دی ، له " ښایي څخه موږ د احتمال او امکان مطلب اخلو ؛ نه پوهیږم چي په پیښورکي په څه مقصد استعمالیږي ؛ دا چي زه په دي نظر باوري نه وم له هغي سوالیي (؟) څخه هم ښکاري چي ما د همدي بحث په خاتمه کي وراچولي ده (د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخي ۲۱٤مخ).

همدارنګه د هند د کتابخانوپښتو خطي نسخي په ۲۰۷ مخ کي چي ما د بایزید د زوکړي او مړیني سني ښوولي دي هلته مي هم سوالیه ورسره ایښي ده ، لکه (۹۳-۹۸۳ ؟).

له دي بیان څخه مقصد دا دی چي هلته ما احتمالاتو ته ځای پریښی دی او مطلق حکم مي نه دی کړی اما ښاغلي مومند زما دا ګماني نظر په خپله مقدمه کي داسي تفسیر کړی دی :

"ښاغلي هیواد مل له دې تر قیمي نه دا نتیجه راوباسي چې په ۱۰۷۹ کې د بایزید انصاري د وفات ۹٦ کاله پوره شوي وو اوهم په دې بنا دا اندازه لګوي چې د بایزید انصاري دو فات کال ۹۸۳ هـ دی " (۱۸) خبره دا ده چې نقادان د احتمالي او ګماني نظریاتو او مطلق حکم تر منځ حد ته قایل دي ، دواړه یو ډول نه ارزیابي کوي.

۲-بله خبره چې د هغې مقدمې په ارتباط دلته وړاندې کوم دا ده، چې د ښاغلي مومند د دې مقدمې په ۱۲٦- ۱۳٦ مخونو کې د بایزید پر تذکره خبرې شوې دي او د دې بحث په نتیجه کې دوی ویلي دي:" د دیو ټولو خبرو په رڼا کښې زه ویلی شم چې د روښاني رسالې کښې لا داخبره په حتمي طور فیصله شوې نه ده چې دا د بایزید روښان تصنیف دی " (۱۳٦ مخ) دا چې مومند صاحب دا رسالې (تذکره او فرحت المجتبی )د بایزید ګڼي او یا یې نه ګڼي دا ددوی خپله خوښه ده، مګر دوې نکتې چې د دې بحث په ترڅ کې راغلي دي هغه زه دلته ضرور یادوم:

الف : ښاغلي مومند د مقدمې په ۱۲۹ مخ کې کښلي دي :

" ښاغلي هیواد مل دا هم نه دي ویلي چې د دویمې نسخې (چې دوی په ۱۳۵٦ هـ ش موندلې وه دا شعر:

"دا تصنیف د میاروښان دی+سرې دې یې ونغوړینه "

د ډهلي ملي موزیم په نسخه کې شته او که نه؟.



زه باید دوی ته په ډیر ادب عرض کړم چې د هند د کتابخانو خطي نسخي نومې کتاب د ۲۳ مخ په وروستیو سطرونو کې راغلي دي :

پای : دا تصنیف د پیر روښان دی

د خدای دپاره دې ساز کا چې غلطي بیا مومینه

ب : ګران مومند صاحب په ۱۳۱ مخ کې لیکلي دي: " خو زما په خیال د دې رسالې د بایزید روښان سر د نسبت نه لرولو له ټولو لوی دلیل دا دی چې په حالنامه کې هیڅ ذکر نشته او هر څوک چې حالنامه د بایزید روښان او د هغه د تحریک په باب له تر ټولو لوی سند ګڼي ، هغوی د یوې لمحې د پاره دا رساله د بایزید لیک نه شي منلی ".

زه بیا هم د ګران مشر قلندر مومند خدمت ته عرض کړم ، چې دا کتاب په حالنامه کې یاد شوی دی ، لکه چې ما د دې بحث په د مخنیو برخو کې یادونه وکړه دا رساله ( چاپي نسخې : روښاني رساله ، د علم رساله ) په روښانیانو کې په تذکره مشهوره وه ؛ په حالنامه کې راغلي دي : " ... اکثره اوقات احداد جیوبه یاران میفرمود هرکس که تذکره پیر دستګیر نداند باید بیاموزد ، که هنګام شهادت من نز دیک رسیده است و از میان شما خواهم رفت جمعیت شما پریشان خواهد شد،اګر با مردم اغیار درخورید شما را از علم شریعت بپرسد تا جواب با صواب بدهید..."(۱۹) .

ترجمه : زیاتره وختونه به احداد جیو یارانو ته فرمایل : هر څوک چې د پیر دستګیرپه تذکره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږي نو ښایي چې یې زده کړي . زما د شهادت وخت نږدې شوی دی ستاسي له منځه تلونکی یم ، ستاسي دپله به خواره شي که له اغیارو سره مخامخ شئ او له تاسونه د علم شریعت پوښتنه وکړي نو تاسي یې باید سم ځوابونه ورکړئ ".

ښایي ځیني ښاغلي د حالنامې په لوړه اقتباسي توټه کې د ( تذکره) له کلمې څخه د بایزید ژوند حالات مفهوم واخلي ؛ که احیاناً له چا سره داسې تصور پیدا شي نو به ځواب په دې دلایلو کیږي: د حالنامې لوړی اقتباسي توټې دا جمله : " شما را از علم شریعت بپرسد تا جواب با صواب بدهید" په خپله موږ ته راښیي چې له (تذکره) څخه مراد د بایزید روښان یو داسې کتاب دی چې د شریعت علم په کې شوی دی او دویم دا چې دا تذکره میا روښان یا د چاپي علم رساله نومې اثر کومه نسخه چې ددهلي په ملي میوزیم کې خوندي ده . د دې نسخې د لومړی نسخې پاڼي په الف مخ کې کیڼ لوري ته په سره رنګ کښل شوي دي:

الجذء تذکره میاروښان.

له دې نامه هم پوره ځرګند ده چې تذکره همدا د علم رساله ده، چې دا د تذکرې یو جز ده او نورې اجزاوې به یې هم وې.اوس نو که چا چاپي (روښاني رساله یادعلم رساله) لوستې وي د حالنامې د لوړی اقتباسي توټې په رڼا کې دا ورته صفا ښکاري چې دا رساله د بایزید خپله رساله ده او د دې رسالې د وروستیو پیداشویو دوو خطي نسخو– په پاي کې دا بیت :



دا تصنیف د میاروښان دی
ســـــــرې دې یې نغوړینه

چا ورزیات کړي نه دي بلکه د بایزید خپل دی .

بله خبره چې په دې ارتباط زه کوم دا ده چې د خیر-البیان په تنقیدي مطالعه ۱۲۸ مخ کې د بایزید د بلې رسالې فرحت المجتبی د سر رباعي نقل شوې ده او ترې لاندې مشر قلندر مومند لیکلي دي : " د دې شعرونو د انتهایي ټیټ میعیار سره ..." په دې برخه کې باید زه زیاته کړم د روښان پښتواثار یو هم هنري او ادبي ارزښتونه نه لري ، یو سرې چې په مسجع نثر د څه لیکلو توان لري که هغه د کومې موضوع د نظمولو زیار وباسي نو به دغسې نظمونه ولیکي ، لکه چې په فرحت المجتبی او تذکره کې دي . د روښان اثر لکه چې موږیې د مخه یادونه وکړه اکثره مسجع نثرونه او مات ګوډ نظمونه (نظم د دې ځای په اوسنی اصطلاح نه بلکه د شرقي فرهنګ د لرغوني او اوسنی معمولي اصطلاح مطابق) دي ، چې حتی د نظم ټول شرایط او ارکان هم په کې بشپړ نه دي ،د شعریت خو ځرک پکښې نه لګي. د ادبیاتو له اوسنیو تعابیرو سره سم د روښاني اثر په ادبي تاریخ کې حتی د مطالعې ځای هم نه لري، اما دا چې د ی د یو نهضت سرلاری دی موږ ار یو چې دی او د ده اثار هېر نه کړو .

د بایزید د دې رسالې د سر او پای څو رباعۍ ما اول خل په ۱۹۸۳ع کال کې نقل کړي وي.

د ۱۹۹۰ ع کال کې مې دغه رساله ګی ګرده نقل کړه او بیا مې نقل له اصل سره وکوت ، البته اصلي نسخه وېنو خوړلي ده ځیني بیتونه او دځیني بیتو کلمات یې له لوسته ایستي دي ، کومې برخې چې د نقل وړ وې هغه مې نقل کړې ، د رسالې موجود اصل متن ګراني ډېرې درلودې مایې په نقل کې خپل کوښښ کړی دی کله چې دا رساله مستقله چاپېږي ، نو بویه چې یو خل بیا له اصل سره وکتل شي، دا نقل له ما سره څلورکاله پروت و او اوس مې له دغو یادونو سره په دې نیامت نشر ته وراندې کړ، چې زموږ فرهنګي حلقات ورخبر شي ، نورنو نه زهٔ د دې رسالې مدافع یم ، او نه له چا سره په دې ډول بې ګټو شخړو کې له اصلي فرهنګي کارونو خان و باسم ، که څوک یې منې یو خل یې کور ودان او که یې نه مني دوه خله یې کور ودان دا وروستی خبرې مې خکه وکښلې ، چې پر موږ د پښتني معاشرې ځیني خصایص دومره غالب دي ، چې حتی علمي او فرهنګي کارونه مو هم تر خپل اغېز لاندې راولي او د خپل ضد دتر سره کولو له پاره لمر په دوه ګوتو پټوو او د خپلې ادعا د ثبوت له پاره داسې دلایل لټوو ، چې د نقد او تحقیق له هیڅ روش سره سمون نه لري .



## ماخذونه :

(۱) هیواد مل ؛ زلمی : د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ، پښتو ټولنه ، کابل د ښوُنې او روزنې مطبعه ؛۱۳۶۳ هـ ش ، ۲۲-۲۴ مخونه .

(۲) روښان ؛ بایزید : د علم رساله ، د سرمحقق دوست شینواري په زیار ، پښتو ټولنه ، کابل ، دولتي مطبعه ،۱۳۶٤ هـ ش ، ۷۹ مخ .

(۳) همدغه اثر ، ۸۰ مخ .

(٤) د علم رساله ، ۸۰ مخ .

(۵) دوست شینواری د روښاني رساله مقدمه ، د علم رساله مقدمه ؛ ی مخ.

(٦) دا رساله تر تذکرې وروسته د خطي نسخې په وروستیو پانو کې خطاطي شوې ده .

(۷) بایزید ، روښان خیرالبیان ، د حافظ عبدالقدوس قاسیمي په زیار ، پښتو اکیډیمي ، پیښور (دوهم چاپ) جدون پریس ، ۱۹۸۸ ع ، ۱٤۹-۱٦۲ مخونه.

(۸) د علم رساله ، ۱۲- ۷۳ مخونه .

(۹) دهند د کتابخانوپښتو خطي نسخې په ۲۳ ؛ ۲۱۹ مخونو کې ما د فرحت المجتبی د حاضرې رسالې شکلي سکښت په ولسي آهنګونو برابر بللی دی . ماله هرې رباعۍ راغلی تکراري بیت هم له رباعۍ سره مربوط ګڼلی دی چې که دا بیت له دغو رباعۍ ډوله نظمونو سره یو ځای شي نو بند ترې جوړیږي، حال دا چې د رسالې شکلي سکښت د رباعیاتو په کالب کې اوډل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی او تر هرې رباعی وروسته هماغه یو بیت بیا بیا تکرارېږي .

(۱۰) د هند د کتابخانو خطي نسخي ، ۲۲۰ مخ .
(۱۱) شینواری ، سرمحقق دوست : بایزید روښان د هنر او شعر په ډګر کي ، ژوندون مجله ، د ۱۳٦٤ هـ ش ٦ ګڼه، ۷-۸ مخونه.
(۱۲) مخلص ، علي محمد : حالنامه ، به کوشش نورالله ولسپال ، اکادمي علوم افغانستان ، کابل ، ۱۳٦٤ هـ ش ،۳٥۹ مخ.
(۱۳) هیوادمل ، زلمی : د اشرف خان هجري د سیمینار علمي سکرتریت یادوني ، د علم رساله ، الف – و مخونه.
(۱٤) هیوادمل ، زلمي : فرحت المجتبی او تذکره میا روښان یو کتاب نه دي؟ کابل مجله ۱۳٦٥ هـ ش ، ۹-۱۰ ګڼه ، ۹٤-۱۰۲ مخونه .
(۱٥) هیوادمل ، زلمی : فرهنګ ادبیات پښتو ، ج ۲ ، کمیته دولتي طبع و نشر ، کابل ، مطبعه دولتي ص ص ۱۱۱، ۱٥۲.
(۱٦) کابل مجله ، ۱۳٤۳ هـ ش کال ،۲ ګڼه ، ۷ مخ.
(۱۷) رشاد ، پوهاند عبدالشکور : د خیر البیان مولف په کوم کال مړ دی ؟ زیری، (مجله) ۱ ګڼه ۱۳٥٥ هـ ش ، حوت .
(۱۸) مومند قلندر : د خیر البیان تنقیدي مطالعه ، چاپ ځای ، پیښور ،۱۸۸۰ع ، ۱٤ مخ.
(۱۹) حالنامه ، ٦۱۹ مخ.



## متن

بسم الله الرحمن الرحیم

میاروښان ویلي دي په عنایت د الهي
زه به دربیان کړم یو څو رباعي
هرچې پی(۱) په کړده(۲) که شناخت یي پیدا شي
کړده په اخلاص وکا (که ) څوک یي پتېبي(۳)
څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

× × ×

د دې زماني (۴)سړي ولي پسو(۵) بې غم وي
چې بې فهمه چارې کاندي او بې فهمه وایي(۶)

---

(۱) پی = پړي
(۲) کړده چار، عمل (پښتو – پښتو تشریحي قاموس )
(۳) پتېبل : اراده کول ، نیت کول ، دا لغت د پټېښنه په بڼه کابو لس ځایه په تذکره کي هم استعال شوی دی لکه : د تن زکات دغه دی – که څوک یي پتېښنه
(٤) اصل: زمانه
(٥) پسو : هسي ، هسي شان ( زړه پانګه ۱۱٦ ).
(٦) اصل : بې فهم چار کاندي او بې فهم و وایي.

په هر یو سړي پوري فرښتي مو کلي(۷) دي
هره وینا هره چاره(۸) د دیو سړي کښني(۹)
څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

× × ×

د دنیا چار کښني د کاندي هتیاتي (۱۰)
بل په دفتر کښني (بې)(۱۱) بدي نه ډیریږي
ویره د قهار دي په زړونو کښنیباسي(۱۲)
توبه دي په پیرو کا بې توبه د ي نه اوسي(۱۳)
څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

---

(۷) موکل : یو کار ته ګمارل شوی ( عمید )
(۸) اصل : هر وینا ، هر چاره
(۹) کښنل : لیکل ، کښني = لیکي.
(۱۰) هتیاتي : احتیاطي ، په خیرالبیان کې هم دغه لفظ په دې ډول لیکل شوی دی ، لکه : دا په غسل فرض دی په هتیاتي آدمیان ( خیرالبیان ۲۸۸ مخ ).
(۱۱) بې : به یې
(۱۲) اصل : ویر د قهار ؛ زړون ؛ کښنیباسل : ننه ایستل ، داخلول .
(۱۳) په خیر البیان کښني د پیر تمام د طلب په بحث کي راغلي دي : په ده دي یقین کا ، پر لاس دي توبه کا.
( خیر البیان ۳٤۰ مخ).



× × ×

مرګوتی درسیږي ناګاه به دریشي
څو رنګه عذاب دی دا سړی دي پتېږي
هر چې نور وکا؛ هغه که چه پیر وایي
وړاندي ګناه به واړه خواجه خدای وربخښني
څو عالم تیر شوی دی لابه پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامید ي

× × ×

ښه کړده اختیار کړه ترو(۱٤) پرېږده بدخویي
بکی به دي په نیکی بدلې شي
څلور دي منزولونه دا سړی دي پتېږي
په هر منزل باور کړه نوري نوري چاري دي
څو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

× × ×

---

(۱٤) ترو : نو ( زړه پانګه ).
× کله مي چې د دې فرحت المجتبی دا ترتیب شوی متن بیا له اصل سره مقابله کړ ، هلته په دې مسری کي زما د ترتیب کړي متن کښني د (بدي ) کلمه (بکی) ده . بیامي اصل ته ترجیع ورکړه او د اول چاپ بدي مي په ( بکی) واړوله . د ( بک) کلمه فرهنګونو د ژړا او انګولا په معنی اخستې ده .

شریعت د رسول وینا ده طریقت کړده د نبي (۱۵)
حقیقت د نبي حال دی معرفت اسرې دې د نبي
چي په پنځه بنا کړده که شریعت په ځای شي(۱۶)
چي په شریعت کښي ثابت شي هغه ده راه د سېري
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دې نه کا نامیدي

× × ×

چي په هغه لار روان شي طریقت په ځای شي
چي په لاره کښي ودرېږي و منزل نه تیر شي
طاعت دې په پاکي کا(۱۷) ترو د نه کا کاهلي
ژبه هر اندام دې په طاعت مشغول لري
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دې نه کا نامیدي

× × ×

له هغ ژبي له هغ اندام چي په دنیا مشغول لري
له هغ ژبي اندام به دي چي د خدای طاعت کړي

---

(۱۵) د شریعت و.ر مندن ګفتار د پیغمبرانو دی ( خیرالبیان ۳۸٤) . همدا رنګه په خیرالبیان کي راغلي دي : شریعت وینا او طریقت چار د پیغمبرانو ده × په خیر البیان کي راغلي دي : حقیقت دی حال د پیغمبرانو (خیر البیان تنقیدي مطالعه).
(۱۶)خیر البیان کي راغلي دي: ګوره دشریعت ورمندن ګفتاردپیغمبرانو دی اوچاردپینځه بنیاددمسلمانی ده.
(۱۷) اصل : وکا



په شریعت د روان وي حقیقت وته دځي
..............................................(۱۸)
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

× × ×

د حقیقت کړده وکاندي چي و حقیقت دی ورسي
کړده یي دایم یاد چي هردم یي د یار وي
په خپل ذکر دي ذاکر (۱۹)نو یقین رښتیا لري
هر چه شته په دواړه جهان له دویي کسي یکښي

ځو عالم تیر شوی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي(۲۰)

× × ×

چي په حقیقت ثابت شي زړه یي بیا مومي صافي
له حقیقت درون شي ترو دي قدم په وړاندي ږدي

---

(۱۸) دا دوې مسرې وینو خوړلي او له منځه تللي دي.
یوه مسرې یي ما په دویم خلي مقابله کي بیامونده .
(۱۹) اصل : د امزانو
(۲۰) دا مسرې په دویمه کتنه کي راوړ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیروني(۲۱) بویه چي په لار د هادي ځي
ځو معرفت نه مومي له منزل نه دریږي
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

× × ×

پنخه خنس(۲۲) عارف دی که ځوک یي پتیي
واجد ، سامع ، واصل دی یګانه چي ساکن شي
دی زر(۲۳) په دید ویني واجد د دي هستي
خپسر(۲۴) دی دي هستي کښي نه کسي
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

× × ×

(۲۱) خیرالبیان : ګوره ورمندن په طریقت کښي په لېروني...لېروني:لاروی :
( د خیر البیان تنقیدي چاپ) .
(۲۲) خنس : خپل ، ډول ، نوع . په خیرالبیان کي راغلي دي : " عارف واجد ، مقرب ، واصل، موحد ، مسکین"
(۲۳) د مسری د سر کلمات مغشوش دي .
(۲٤) خپسر : ځان. خپل ځان ( زره پانګه ۲۷۷) دا مسری هم په دویمه مقابله کښي سمه شوه .



په هیبت دي دا سری چي دایم د یار وي
...................................(۲۵)
غافلان دي لکه مړي ذاکران لکه ژوندي
...................................(۲٦)
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

× × ×

دی یو پاک دریاب دی هر چي په دي کښي وي
هسي بي پایان چي حد پایان نه لري
واجد خپسر په خدای ، خدای په هر څه کښي ویني
خلاص به نشي له دیداري که د دیدار یي فهم لري
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

× × ×

دواجدان بویه چي په وړاندي روان شي
له یا نه دي نه دریږي ځو عارف سامع نه شي
سامعان د هر آواز په تسبیح یي پوهوي
هر آواز چي آواز یي په تسبیح فهم لري
ځو عالم تیر شوی دی لا به پسي ځي
په مرګ به واړه ومري ځوک دي نه کا نامیدي

(۲۵) (۲٦) دا دواړه مسری له منځه تللي دي . په یوه مسری کي څه داسي کلمات شته چي زه یي په سم لوست بریالی نه شوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسامعان (۲۷) بویه چې په ورانديې روان شي
له یا نه دي درېږي څو له حقه واصل شي
دواصلان (۲۸) بویه چې خو دې دوري (۲۹) کوي
واصلان دڅهره چار که له خدایه (۳۰) هسې شي
څو عالم تیر شوی دی لا به پسې ځي
په مرگ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

× × ×

واصلان بویه چې په وراندې روان شي
له یا نه دي نه درېږي څو نه مومي یګانګي
یګانه دي کاندې کړده د یګانګي
نه هغ پورې چې بیا مومي له خدایه قراري
څو عالم تیر شوی دی لا به پسې ځي
په مرگ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي

× × ×

چې روح بیا مومي د خدایه قراري
خدای به واړه دی خپسر کښي
میاروښان ویلي دي دا رساله مې فرحت المجتبی
هر چې د کړده د پاره زده کا د ښو اثر بې زره نه وربښي
څو عالم تیر شوی دی لا به پسې ځي
په مرگ به واړه ومري څوک دي نه کا نامیدي
دارساله د ګل محمد له لاسه وکښل

---

(۲۷) اصل :وسامعان (۲۸) اصل : دواصلان (۲۹) دلته په یوه کلمه نه یم پوه زما په نقل کې ښه نه ده راغلې.
په دریمه کتنه کې سمه شوه (۳۰) اصل : ولخدایه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**